ځيني وختونه زمونږ زړونو ته داسې خبرې راځي چې ډيره سخته ده چې په اړه يې خبرې وکړو، هغه وفرمايل: «آيا داسې څه مو حس کړي دي؟» هغوی وويل: هو، ويې فرمايل: همدا څرګند او روښانه ايمان دی

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: د پيغمبر صلی الله عليه وسلم له صحابه کرامو څخه يو څه خلک راغلل او ورڅخه يې پوښتنه وکړه چې ځيني وختونه زمونږ زړونو ته داسې خبرې راځي چې ډيره سخته ده چې په اړه يې خبرې وکړو، هغه وفرمايل: «آيا داسې څه مو حس کړي دي؟» هغوی وويل: هو، ويې فرمايل: همدا څرګند او روښانه ايمان دی».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو يوه ډله راغله او له هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې دوی کله په خپلو زړونو کې د داسې لويو - خبرو - احساس کوي چې سخته ده ورته په اړه يې خبرې وکړي، ځکه چې هغه خورا بدې خبرې دي او دوی ورڅخه کرکه لري. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه څه چې تاسو موندلي دي روښانه ايمان او يقين دی چې تاسو هڅوي د هغه څه مخه ونيسئ چې شيطان يې په زړه کې در اچوي، نو تاسو يې له ويلو انکار کوئ او په زړه کې درته ډيره لويه تمامیږي چې په اړه يې خبرې وکړئ، او يقينا چې شيطان ستاسو په زړونو باندې واک نه دی ترلاسه کړی، د هغه چا په څير چې شيطان يې په زړه قبضه کړې وي او له ځان سره داسې هيڅ شی نه لري چې دفاع پرې وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65011